مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړن: رڼاګل اریوبزی ۲۰۲۱/۱۰/۲۵

# بزګر او شیطان

## د ماشومانو له پاره لنډه کیسه

یو وخت یو هوښیار اوچالاک بزګر په خپله ځمکه کار او ژوند کاوه. د دې بزګر دکړو وړو په هکله ډېرې کیسې شته، خو تر ټولو په زړه پورې کیسه یې داده چې څنګه یې شیطان وغولاوه او یو احمق شی یې ترې جوړکړ .

کیسه داسې ده چې بزګر یو ځل بشپړه ورځ په خپله مځکه کې کار وکړ او مازدیګر د لمر لویده په وخت کې یې کور ته د تګ تیاری ونیو، وېې لیدل چې په مځکه یې داور سکروټو یو امبار جوړ شوی دی. دی ورته حیرا او ور روان شواو چې ګوري دسره سکروټو په امبار یو تور وړوکی شیطان ناست دی. بزګر شیطان ته وویل چې:« ته لکه چې په کومه خزانه ناست وې.» شیطان ور ته وویل چې:« هو! زه د سرو اوسپینو زرو په دومره لویه خزانه ناست یم چې تا به په خپل ټول عمر کې هم نه وي لیدلې.» بزګر ورته دو ویل:« چې خزانه زم په مځکه کې پرته ده، نو خکه دا خزانه زما ده.» شیطان و ویل چې:« خزانه به هغه وخت ستاشي چې ته دوه کاله سر په سر دخپلې مځکې حاصل نیمایي برخه ما ته راکړې. زه پیسې ډېرې لرم، زما یوازې غلې او میوې په کار دي:» بزګر د دې ماملې سره موافقه وکړه او دومره یې ورته و ویل چې:« د دې له پاره چې زکما او تا ترمنځ بیا کوم جنجال پیښ نه شي، نو سر له اوسه داسې ویش کوو چې دحاصل هغه برخه چې دمځکۍ په سر وي، ستا ده او هغه برخه چې د مځکې لاندې ده، زما ده.» دا ویش د شیطان خوښ شو او هوکړه یې ورسره وکړه، دې چالاک بزګر داځل په دمځکه باندې ګجرې وکرلې. کله چې د حاصلاتو وخت راغی، شیطان هم راښکاره شو تر څو خپله برخه تر لاسه کړې، خو چې ګوري د مځکې په سر نور څه نشته یوازې د ګجرو ښنې او ځنې ژیړې شوې پاڼې پرتې دي او بزګر دخوشالۍ نه ډ ک په بیره بیره د مځکې نه ګجرې راباسي. شیطان بز ګرته و ویل چې:« داځل تا ګټه وکړه، خوبل وار دا ویش نه درسره منم. بل ځل به هغه څه ستا برخه وي چې د مځکې په سروې او څه چې تر مځکې لاندې وي زما برخه ده.» بزګر ورته و ویل چې:« سمه ده » دا ځل چې دکرنې وخت راورسید، بزګر په مځکه ګجرې ونه کرلې، بلکې غنم یې وکرل. دغنمو دلو وخت راورسید، بزکر غنم ټیټ دمځکې به سر وربیل او کور ته یې یوړل او کله چې شیطان مځکې ته راغی، په ځمکې یې یوازې دغنمو وچې دروزې او ولی ولیدې او نور هیڅ نه وو. شیطان له ډېرې غوسې دېرخو په تنګې سر شو او پرخې سره ټکر شو. بزګر دځان سره و ویل چې:« ګیدړ باید داسې وغولول شي. بیا په خزانې پسې ور غی، را وېې باسله او دځان سره یې کورته یوړه .

Brüder Grimm::لیکونکې
ژباړن: رڼاګل اریوبزی

Liste von Märchen - Grimms Märchen - Grimmstories.com


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ